# Religious tradition in the poetry of Rehman Baba and society.

# د رحمان بابا په شاعرۍ کښې مذهبي روايت او ټولنه

محمد دين[1]

**ABSTRACT**

Abdur Rahman Mohmand or Rahman Baba was a renowned Pashtun Sufi Dervish and poet from Mohmand Agency in Peshawar during the Mughal era. His poetry expresses the mystical side of Islam, in line with his Sufi oriented nature. Rahman Baba shayari and ghazals is popular among people who love to read good poems. His poetry expresses a peaceful mystical side of local culture which is becoming increasingly threatened by less tolerant interpretations of Islam. In this article examines the Sufi poetry of Rehman Baba.

**Key words:** sufisim, Derivish, renowned, mystical

د مذهب او دين تعليمات د ټولنې د افرادو دپاره وي ځکه مذهب او ټولنه يو بل سره تړلي را روان دي. رحمان بابا چې د دين او مذهب په لور رجحان لرلو تعلق ئې نېغ په نېغه د ټولنې او افرادو سره دے ځکه د هغۀ دين او مذهبي تعليمات د ټولنيز شعور سره کلك تړون لري، په دغه تړون او تعلق کښې د هغۀ د دور ديني او مذهبي روئيې هم را مخې ته کېږي چې تعلق ئې د تاريخي شعور سره دے هغه چې په خپله شاعرۍ کښې د دين او دنيا خبره کوي نو د ټولنيز شعور او په ټولنه کښې موجود افرادو دپاره ئې کوي. د هغۀ په دغه ديني او دنياوي تصور او تعليماتو زمونږ ليکوالو او څېړونکو اوږدې تبصرې کړې دي چې يوه تبصره په کښې د ډاکټر حنيف خليل صاحب په دې توګه زمونږ مخې ته راځي:

"دين او دنيا په خپلو کښې څۀ نسب لري؟ په دې حقله دا وئيل ضروري دي چې خپل ټول ژوند د دنيا دپاره وقف کول او د ژوند مقصد د دنيا حصول ګرځول هم بې بنياده خبره ده او محض دين دپاره د ژوند هره ګړۍ

---

[1] M.Phil Scholar, Pashto Department, University of Balochistan, Quetta

وقف کول او هر وخت د خالق عبادت کول هم په اسلام کښې جواز نهٔ لري ځکه چې دا د رهبانیت سره نژدېوالے لري. ځکه اسلام په هرڅهٔ کښې اعتدال ساتلے دے او د "خیر الامور اوسطها" درس ئې ورکړے دے. دنیا په بېل حېثیت او دین بېل حېثیت خپلو کښې هیڅ نسبت نهٔ لري.

د دنیا د دین نسبت و بله نهٔ شي
اور اوبهٔ سره استوګنه په څهٔ شان کا

خو د دې دا مطلب هم نهٔ دے چې ګنې نهٔ خو د دنیا څهٔ اهمیت او قیمت شته او نهٔ د دین، رحمان بابا د دواړو اړخونو نه په دین او دنیا خپله رائې ځرګنده کړې ده. یو طرف ته وائي چې:

په دنیا کښې بدي نهٔ شته
که بدي نهٔ وي له تا

ولې بل طرف ته په هغو خلقو ډېر زوردار تنقید او طنز کوي څوك چې د دنیا په شغل کښې دومره ډوب شي چې دین ترې بېخي هېر شي نو ځکه دا هم وائي چې:

دا دنیا ده بې وفا
بې وفا ده بې بقا

دا قسمه شعرونه د رحمان بابا په دیوان کښې ډېر زیات په نظر راځي چې د دنیا بې ثباتي او بې وفائي ترې ښکاره شي خو ولې د اعتدال د نظرئي له مخه د دنیا په ښو اړخونو هم نظر ساتي او دنیا د دین دپاره ډېره اهمه ګڼي"(1).

د رحمان بابا په ژوند او تعلیماتو چې دوست محمد خان کامل کوم کتاب لیکلے دے، په هغې کښې ئې د رحمان بابا په صوفیانه مسلك د

تبصرې په وخت په ټولنه کښې د ديني روايت په حقله هم بحث کړے دے او دغه روايت ئې د تاريخي شعور په رڼا کښې هم واضح کړے دے چې په دې توګه ئې د تصوف او اسلامي عقائدو عملي اړخ او ټولنيز اهميت هم په ډاګه کړے دے. اروابناد کامل صاحب په دې لړ کښې داسې ليکي:

"د اسلام يو بل خصوصيت دا دے چې د شر او فتنې نه ئې صرف د ځان ژغورلو تعليم نۀ دے ورکوړے بلکې ورسره د منګولو لګولو او ور کولو ئې او ترې د انسان د خلاصولو او د انسان په انفرادي او اجتماعي ژوند کښې د خير او نېکۍ د قائمولو دپاره د هر ممکن کوښښ کولو او زيار کاږلو نغوته کوي. خپل نفس سره جګړه کول لوئ جهاد دے خو سرور کائينات مستبدانو او جابرانو سره چې انسانان ئې د خپلو حقوقو نه محروموِل هم ټول عمر جهاد کړے او ورسره ئې د جهاد کولو امر فرمائيلے دے، هغوئ ته خپل ظاهر او مطهر نفس سره د عام معيار له نقطۀ نظره د جهاد ضرورت نۀ ؤ خو ډېر خيزونه چې د عوامو بلکې خواصو او اولياوو دپاره هم ضروري نۀ وي، د انبياوو عليهم السلام دپاره ضروري وو نو هغوئ به هره لحظه نفس سره په جهاد کښې مشغول وو او ظالمانو او جابرو انسانانو سره به ئې هم جهاد کولو او چې له دې فارغ شول نو په يوه موقع ئې ارشاد وکړو چې "رجعنا من الجهاد الاصغير الى الجهاد الاكبر" چې دا فرض د سړي په مخکښې وي نو بغير له ادا کولو ئې نفس سره مقابله د جهاد اکبر په تعريف کښې نۀ شي راتلے، مولانا عبد الرشيد صاحب نعماني په "لغات القرآن" (دريم جلد) کښې د رهبانية د توري لاندې بحث کښې د حضرت امام احمد ابن حنبل رح د مسند په حواله د حضرت ابو امامهؓ يو روايت نقل کوي چې مونږ يوې سريې (جنګوټې) له رسول اللهﷺ سره ووتلو يو سړے په يوې داسې سمڅې تېر شو چې ورسره شينکے او اوبۀ وې، د دۀ په زړۀ کښې تېر شول چې له دنيا يو خوا ته دلته ځای ونيسي او له رسول اللهﷺ نه ئې اجازت وغوښتو هغوئ وفرمايل چې "زۀ يهوديت او نصرانيت سره نۀ يم را لېږلے شوے، بلکې خدای طرف ته داسې رجوع سره چې له هره کږلېچه پاك او لرې توحيد دے، قسم په هغه ذات چې په لاس کښې ئې د محمدﷺ ځان دے، د خدای په لاره کښې يو سحر وتل يا يو ماښام وتل د دنيا او

مافيها نه زيات او تاسو کښې د يو کس په صف کښې ودرېدل له شپېتو نمونځونو نه زيات دي" له تاريخه جوته ده چې د اقائې نامدارﷺ خلفاء اربعهؓ د هغوئ دي ارشاد او عمل ته مدام مخ او پسې يون کړے ؤ، د هغوئ د ژوند مقصد يو داسې نظام قائمول او برقرار ساتل ؤ چې د هر قسم او نوع له خرابو پاك او د هرې ښېګړې لرونکے وي او په کښې هر انسان ته په خپل انفرادي او اجتماعي ژوند کښې د هر قسم بنيادي حقوق او ضروريات حاصل وي او په دې نظام کښې د هر انسان دا وظيفه ګرځي چې خپل تکميل نفس سره دې د زياتو نه زياتو وګړو اصلاح او خوشحالۍ دپاره کار وکړي"(2).

په دغه پس منظر کښې کامل صاحب د رحمان بابا ځينې داسې شعرونه د مثال په توګه پېش کړي دي چې د تصوف او مذهب عملي اړخ ته اشاره کوي او د ټولنيز شعور سره سره د مذهب په اړه تاريخي شعور هم را مخې ته کوي. د رحمان بابا له اړخه د ټولنې دين او دنيا، عمل او جدوجهد په حقله د شعرونو پېش کولو نه پس کامل صاحب په خپله تبصره کښې داسې وائي:

"په ديو اشعارو کښې چې د دنيا او دنياداری په باب کومو خيالاتو ښېښه شوې ده د هغو له صحت او توازنه څوك انکار کولے شي؟ بابا وائي که سړے مومن او عبادت ګزار او په پنج بنا قائم وي نو له دې دي وېره نۀ کړي چې مال ورسره ډېر دے ځکه چې د داسې سړي مال د خدای دپاره دے، د هغۀ د مخلوق دپاره به ئې خرڅ کوي، که سړے زکواة ادا کوي د اوږو، تږو، لوڅو، نهرو خبر اخلي نو که د خپل مال په ذريعه له اوره عود او له ميرو باغونه سازوي نو دا نۀ چې باك ئې نۀ شته بلکې ښۀ کوي البته د هغۀ سړي مال او دولت بد دے چې په را ټولولو ئې نور نهروي او بربنډوي او دۀ کره خو پرې نغمې وي او هغوئ نورو کره وير، د هغۀ سړي دنياداري او مالداري د غندنې ده چې په مال کښې ئې د محتاج او مسکين برخه نۀ وي چې دے خو په عېش نۀ مړېږي او خوا کښې ئې خلق وچه ډوډۍ هم نۀ مومي، په دې قصيده کښې په بحث لاندې مسئلې چې په کومې ساده اسانه او خوږه ژبه او ښکلې جامعه او واضحه طريقه د خيال اظهار شوے دے، هډو دې تنقيد او

شریح ته اړ نهٔ دے او د رحمان بابا دې شعر کښې هم چې وړومبے هم د زهد او تقویٰ په باب کښې نقل شو د مسئلې ډېر جامع حل دے:

چې مطلوب او مدعا د سړي خدای شي
ناست ولاړ ئې هغه واړه عبادت وي"(3)

هرکله چې خبره د دیني، اسلامي او مذهبي تعلیماتو کېږي او په ټولنه ئې اطلاق کېږي نو ضروري ورسره د اخلاقیاتو خبره هم مخې ته راځي، د زمانې مذهبي حالات هم را مخې ته کېږي، د حقوق العباد اسلامي تصور هم د بحث لاندې راځي او په ټولنه کښې په مختلفو ادوارو کښې د دیني عالمانو د کردار څرګندونه هم کېږي. دغه هرڅهٔ د رحمان بابا په شاعرۍ کښې زکیه حلیم په خپله یوه مقاله "اسلامي تعلیم د رحمان بابا د کلام په رڼا کښې" په موضوع د رحمان بابا د شعري مثالونو سره څرګند کړي دي چې دلته ئې یوه برخه د حوالې په توګه وړاندې کول ضروري ګڼم. زکیه حلیم دې لړ کښې داسې لیکي:

"رحمان بابا د تصوف نه علاوه د زمانې د ناسازګارۍ په حقله هم ډېر فریادونه کړي دي، د خلقو بد حالۍ نه ئې زړهٔ لړزېدلے دے او ډېر په درد او سوز ئې خپل تاثرات بیان کړي دي:

د دنیا چارې همه واړه غلول دي
دا ګمان په هیچا مه کړه چې مې خپل دي
هیڅ مزه په دا جهان کښې پاتې نهٔ شوه
د یخ سیوري په اوبو پورې کول دي
نصیحت د ناصحانو اثر نهٔ کا
د سړې او سپینې خوشې ټکول دي

هره زمانه کښې د نوم عالمان دي چې هغوئ خلقو ته غلط تعلیم ورکوي او خلق ګمراه کوي، د دوئ متعلق رحمان بابا وائي:

عبادت د رياكار هيڅ په كار نۀ دے
لكه غرك هسې په بحر كښې مردار شي
علميت د بې عمله عالمانو
لكه ګنج د كتابونو په خرۀ بار شي

د حقوق العباد په رڼا كښې رحمان بابا د انسان سره سلوك داسې بيانوي:

د خليل تر كعبې دا كعبه ده لويه
كه اباد كه څوك ويران حرم د زړۀ
بې اخلاصه حلاوت د اسلام نۀ شته
كه اسلام دے خو اسلام دے د اخلاص
كه له زمكې و اسمان ته خاتۀ ګران دي
دا سفر په يوۀ ګام دے د اخلاص

د اسلامي تعليماتو يو اهم جز حلال رزق ګڼل دي، د حلال رزق تصور رحمان بابا په دې رنګ كښې پېش كړے دے:

په محنت په مشقت ملا ماته ښه ده
نۀ حرامه هميانۍ د چا تر ملا
چې له آبه له حرمته سره نۀ وي
خداى ور مه كړه چا ته هسې سيم و زر

په يو بل ځاى كښې د روادارۍ داسې سبق وركوي:

هغه زړۀ به له طوفانه په امان وي
چې كشتۍ غوندې د خلقو بار بردار شي

بنيادم خو يو حيوان ناطق دے كه دے خرابو او بدو چارو ته ګوتې كړي نو په ځناور او بنيادم كښې به څۀ فرق پاتې نۀ شي. رحمان بابا وائي:

په ادم کښې د حيوان خويونه هم شته
بيا هالۀ ئې ادم بوله چې ادم شي

د رحمان بابا د کلام نمونې نه دا خبره ثابتېږي چې اسلامي تعليماتو په رڼا کښې د انسان د ژوند متعلق کوم جز کومه خبره يا مسئله داسې نۀ شته چې رحمان بابا پرې قلم نۀ دے اوچت کړے"(4).

د دغه بحث او حوالو نتيجه دا راوځي چې رحمان بابا د ديني او اسلامي تعليماتو تعلق نېغ په نېغه د ټولنيز روايت سره تړي او د ديني او مذهبي روايت بنيادي ماخذ قرآن او حديث ګڼي، بيا د قرآن او حديث په حواله د انساني ټولنې ګڼ شمېر موضوعات د ټولنيز شعور او د خپل عصر د اخلاقي نظام هينداره ګڼي. د دغه پراخ موضوعاتي او ټولنيز تصور خلاصه د قرآن او حديث د بنيادي ماخذ په حېث ډاکټر شهاب عزيز ارمان په يوه مقاله کښې په خلاصه ډول بيانوي او د رحمان بابا د مذهبي روايت او ټولنيز شعور بنياد را مخې ته کوي، هغه داسې ليکي:

"د رحمان بابا د کلام په شان دا موضوع يو آفاقي او Cosmic حېثيت لري. ولې چې قرآن او صاحبِ قرآن تر قيامته راتلونکيو انسانانو دپاره دي، که بابا يو خوا په فکري توګه د قرآن او حديث نه استفاده کړې ده نو بل خوا ئې په فني توګه هم د دې چينې آبِ حيات نوش کړي دي او هم دا وجه ده چې د رحمان بابا شاعري په موضوعاتي لحاظ ډېره پټه او مړه ده. د بابا د کلام معلوم او ښکاره موضوعات چې د قرآن او حديث جزيات ګڼلے کېږي، دا دي عقائد، دين، دنيا، آخرت، انسان، انسانيت، عبادات، معاملات، اخلاقيات، عشق حقيقي، حقيقت او مجاز، تحريك او عمل، آفاقي او ادبي اقدار، قاميت او مقاميت، ټولنيز او عالمګير شعور، وعظ او نصيحت، دې سره سره حُسن او جمال، د خپل دور ترجماني، شاعرانه تنقيدي نظريات، ترقي پسندي او په رمز او کنايه کښې او چرته چرته ښکاره د مرد تصور نور اهم موضوعات دي هم د دې موضوعاتو آفاقيت رحمان بابا د زمان او مکان د قيد نه ازاد کړے دے او که وکتے شي نو هم دا هغه کليدي موضوعات دي چې په دور انحطاط کښې د نشاة ثانيه پېغام ګرځي"(5).

**نتيجه**:

له دغو حوالو دې نتیجې ته را رسېدل اسان دي چې مونږ د رحمان بابا د شاعرۍ د مذهبي روایت او ټولنې د تړون کوم بحث را نښلولے دے د هغې یوه روښه هینداره مونږ ته د رحمان بابآ د شاعرۍ په شکل را مخې ته کېږي او مونږ په دې خبره هم پوه شو چې د ټولنې دغه مذهبي روایت په خپله د تاریخي شعور برخه هم جوړېږي چې په دغه توګه د یوې ټولنې د مختلفو ادوارو د مخصوصو مذهبي روئیو او رجحاناتو تصویر هم زمونږ مخې ته راځي. د رحمان بابا شاري په دغه حواله هم د قدر وړ ده چې د خپل عصر د دیني روایت هینداره هم ده او د خپل عصر د تاریخي شعور ترجماني هم کوي.

## حوالې

(1) خلیل، حنیف، 1997ء، د رحمان بابا اعجاز، اداره علم و فن پاکستان، ص95، 96.

(2) کامل، مومند، دوست محمد خان، 2006ء، رحمان بابا، تاریخي علمي او ادبي جاج، دانش خپرندویه ټولنه، ص231، 232.

(3) ایضاً، ص224، 225.

(4) حلیم، ذکیه، 1998ء، اسلامي تعلیم، د رحمان بابا د کلام په رڼا کښې، (مشموله) قدردان د شاعرانو، (مرتبه محمد جاوېد خلیل) پښتو اکیډمۍ پېښور یونیورسټۍ، ص266، 267.

(5) ارمان، شهاب عزیز، جولائي – دسمبر 2014ء، د رحمان بابا په شاعرۍ د قرآن او حدیث اثرات، (مشموله) امیل مجله (رحمان بابا نمبر) ص90.